زرغون شاه شینواری ۲۰۲۱/۰۳/۲۷

کابلي حاکمان په ړنګه مورچه کې پټ پټوني کوي

د انساني ژوند د بدې ورځې اخیرنی ملګری د یو شي یا د چا شا ته پټیدل دي. په مورچه کې پراته جنګیالي هغه وخت د سنګر وروستۍ ډبرې ته ځانونه پټوي چې مورچه پرې ړنګه او د تیښتې لاره یې بنده شي. د ببرک کارمل ځیرکتیا او د پرچم خلق د ډلو د ځنې کدرونو ولسي پیوندونه سړي ته دا سوچ پیدا کوي چې امکان لري شورویان به دوی راوستي وي او یا به هغو د یادو ډلو په پیوند راغلي وي، مګر د بن د کنفرانس ټول د سر سر لوبغاړي که هغه جهادي، الحادي او دیموکراټ دي امریکا راوستي. د شوروي اتحاد استخباراتو ته پته وه چې کارمل یو سیاسي ایدیالوژیک او ګوند کې لوړ پوړی غړی دی، مګر د وخت د اړتیا له مخې په افغانستان کې د پیل شوو ولسي، مذهبي پاڅونونو د مقابلې او حکومتولۍ لپا ره برابر نه دي. شورویانو د فهم د پاسه دا کار ځکه وکړ چې په همداسې پاشلی حکومت او پاشلو ډلو د شوروي مشاورینو حکمراني بې خطره چلیده.
د سوسیالیزم، پانګه والی، شوروي اتحاد او امریکا ژور تضاد ته په پام د دولتي اداري د جوړښت سمبالښت په برخه کې کوم کار چې شورویانو ۱۹۷۹ کې وکړ هم هغه عمل امریکایانو ۲۰۰۱ کال کې پیل کړی او تر اوسه یې جاري ساتلی دی. څرنګه چې د شوروي اتحاد د یرغل مل دولت هغه مهال شعار ور کاوه چې د افغانستان ژوند د شوروي په دوستۍ پورې تړلی دی، د ناټو د ۲۰۰۱ کال د یرغل سره راوړل شوي مشران هم وایي چې زه په خپله خاوره کې په پردۍ جګړه کې ځکه د دې ولس بچې وژنم چې نیوریاک او لندن په امن کې وي. د یو ګوندي دولتونو د جوړښت په لړ کې د شوروي دا تاکتیک یا استخباراتي وه او که داسې نه وي، نو مطلقه سهوه وه.
غربي دولتونو چې د طالبانو د امارت د ړنګولو څخه وروسته د افغانستان د دولت د جوړولو لپاره د کومې طریقې څخه استفاده وکړه دا د لویدیځو دولتونو د سیاست یوه برخه ده چې دوی یې په خپلو مستعمره یا سیوري لاندې ملتونو او هیوادونو کې د هغو ټولنو د ټولو څخه کمزوري کسان د ټولو څخه زورور ځای یا حکومت کې کښینوي، ځکه چې دا ډول انسانان د زور څښتنان نه بلکې د زور ممثلان وي او اصلي زور یا حکومت بهرنیانو سره وي. د لوستونکو به په یاد وي چې واړه (کشر) بوش به د یرغل پیل کې ویل چې امریکا د افغانستان ملت او دولت دواړه له سره جوړوي. دا نه یوازې د افغانستان د ملت تاریخ او ټولنې سره بشپړه نابلدتیا وه، بلکې ده ته د خپلو افغاني شاګردانو په څیر دومره پته هم نه وه چې د امریکا د ملت خټه لا لمده شوې نه وه چې همدې افغانستان کې د شرقي تمدن زانګو ځنګیدله. د «بوش چیني» دوکتورینو له همدې نظر له مخې د هم هغو افغاني اجیرانو د یوه یوه بیلا بیل سپکاوی وکړ چې دوی سره د مجاهد، ملیشو، دیموکرات روشنفکر یا په نورو نومونو د حشرګړو په قطار کې روان وو. ناټو په هم هغه لومړي سر کې پوهیده چې مونږ دولت نه جوړو. دولت چې نه وي دیموکراسي هسې د مړی لمانځنه ده او ملت ورانولی شو خو جوړولی یې نه شو. ملتونه وګړي یا خلک جوړوي او هغوی د ملت جوړیدنې لپاره جغرافیې، استقلال، تاریخ، شریکو ارمانونو او ورته ځانګړنو ته اړتیا لري. د مسئولیت، صلاحیت او تعریف سره برابر دولت جوړیدنه په تیورۍ او عمل کې توپیر یا وخت غواړي. امریکا په شلو کلونو کې د سل ګونو زرو انسانانو د زیان او (۸۲۰) ملیارده ډالرو د تاوان څخه وروسته نه ملت جوړ کړ او نه یې دولت. کوم دولت چې ناټو افغانستان کې په دومره ستر زیان جوړ کړی ژوند او سا یې د ناټو په جنګي حضور پورې تړلي دي. داسې بې رحمه جنګي شتون چې هره ورځ د افغاني میندو د غیږو څخه ځلمي بچې خوري او د جګړې هر ټیکه دار که هغه د اسلام څادر اغوستی او یا که ناټو ور څخه ډیموکرات جوړ کړی او که د قوم، قبیلې پګړۍ او د مذهب چپني یې ور اغوستل شوي، پرته له جګړې څخه بله خبره نه کوي. داسې جنګ چې پیسې وسلې یې د ناټو بهرنیانو او مرګونه یې د افغاني ټولنې د هغو بیوزلانو دي چې د یوې مړۍ دوډۍ لپاره د مرګي د ګولۍ مخې ته منډې ور وهي. تاسې بهرنیو مداخله

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګرو یو ملت د دار په تخته لوڅ لپړ درولی. په مونږ مو داسې څه را تپلي چې د ځوانانو یا نیمو وګړو نه ژوند اخلي او څوک چې پاتې وي له هغو څخه د ژوند لپاره انګیزه.
زمونږ هیواد کې شاوخوا (۱۸) ملیونه بالغ انسانان اوسیږي. په دوی کې دریمه برخه یعنې (۶) ملیونه وګړي ستاسو د ملت او دولت جوړیدنې په دې شل کلنه انارشۍ کې پوډریان او نشه یان شول، تاسو ساتلي روزلي او راوړي اوس د هغو پوچو شعارونو او ړنګو سنګرونو شا ته ځانونه پټوي چې نه سیاست پرې ګټل کیږي او نه جنګ، مګر جنګ پرې جاري ساتل کیږي. د دې زبونې او ذلیلې جګړې څخه ګنګس. ناخبره او نابلده حاکمان اوس د سولې پر ضد وروستنې استفاده کوي او هغه استفاده د هغو شعارونو تکرارول دي چې د دیمو کراسۍ څخه یې جامې و ویستې او د افغانستان د خلکو څخه یې ژوند او ملي غرور واخیست.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ